مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان ۲۰۲۴/۰۴/۱۱

# غـــزل

اننګي ئې دومره سره په څهٔ سبب دي؟
عجیبه ده جنتونه په غضب دي

ښکلي مخ ته خامخا سترګي وراوړي
بوراګان خو د ګلونو په مذهب دي

د ریا زاهدان سپي د دوزخونو
شاعران خو شاګردان د ښکلي رب دي

وی ئې سترګي مي دریاب دي درومه وړي دي
ما وی نه څم عادتونه مي د کب دي

ستا بانه مي د زړه جیب کي وهي ګوتي
لکه شوخ ماشومان څومره بې ادب دي

پیرمحمد کاروان





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ